Download from:aghalibrary.cm

# کوترې او چوغکه



لیکوال: محب الله زغم

سپی د ونې سیوري ته ویده وه.وړوکی زوی یې د چوغکې د بچي ننداره کوله. د چوغکې بچی په هوا کې دې خوا ها خوا ګرځېده. دا دوهمه اونۍ وه چې هغه الوتل زده کړي وو.

د چوغکې بچی راغی او د کوچني کوتري مخې ته پر ډبره باندې کېناست. کوتري ته یې وویل: څنګه وه زما الوتنه څنګه وه ؟

کوتري وویل: ډېره ښه وه. کاشکې د ما هم زده وای.

د چوغکې بچي وویل: ریښتیا ته که الوتلی نشې نو ګرځېدلی خو شې ، خو ته هېڅ چېرې نه ځې. ټوله ورځ دې د مور په خوا کې تېروې.

کوتري ځواب ورکړ: زه خو لا کوچنی یم. مور مې وایي چې لرې مه ځه.



د چوغکې بچی والوته او ویې ویل: ما وګوره زه لا د دریو میاشتو یم خو هر چېرته تلای شم. ان تر هغه ځنګله پورې یوازې ځم. ته نه پوهېږې چې ځنګل څومره ښکلی دی. ته به تر څوپورې د مور په بند کې اوسې او هغه به درته لګیا وې چې دا مه کوه ، هلته مه ځه. وه لیونیه ازاد اوسه ازاد.



کوترى په چورت کې ډوب شو. د ځنګله په فکر کې و چې هلته به څه شی وي. يو وار به يې ځان سره ويل چې راځه نن د ځنګله سيل وکړه. بيا به يې ويل (( نه مور مې راته ويلي دي چې لرې مه ځه )) د چوغکې خبره يې په غوږو کې انګازې وکړې چې ويل يې (( ازاد اوسه ازاد)) خپلې مور ته يې وکتل. هغه لا ويده وه.

اخر کې سوکه سوکه چې مور يې راوينښه نشي د ځنګله خوا ته روان شو. ځان سره يې وويل لاړ به شم که څه خبره وه نو بېرته به راشم.

د چوغکې بچي له لرې هغه وليداو ځان يې ورورساوه. هغه پاس الوته او کوترى لاندې روان و. دکوچني کوترې د پښو لپاره دا لاره ډېره اوږده وه. هغه ژر نه شو تلاى. د چوغکې بچى به په هوا کې وړاندې لاړ او بېرته به راوګرځېد چې کوترې سره جوړه شي.



مازديگر دواړه ځنګله ته ورسېدل. ځنګل ګڼ و. ونې پکې ډېرې وې. هغوی همداسې وړاندې تلل. کوچنی کوتري تر اوسه پورې دومره لوړې ونې نه وې لیدلې. هغه پورته د ونو سر ته کتل چې پاس په اسمان کې یې یو مارغه ولېد. د چوغکې بچي ته یې وویل: اې ! پورته وګوره ، دا څه شی دی څومره لوړ الوزي.

چوغکه چې پوره وکتل چیغه یې کړه: هله ، ځان پټ که چې ودې نه خوري. دا خو باز دی باز.

دې سره د چوغکې بچی د یوې ونې په سوړه کې ننوت. کوتري دې خوا ها خوا منډې کړې خو داسې ځای یې تر سترګو نه شو چې ځان پکې پټ کړي. هغه وېرېدلی و ، زړه یې ټکان کاوه. د یوې ونې لاندې کېناست او خپل سر یې تر اوږو لاندې پټ کړ.



څو شېبې وروسته يې کرار کرار ، وېرېدلی پورته وکتل. د باز په منګولو کې يو کوچنی سوی ښکارېده. باز وار په وار لرې کېده او کله چې ډېر لرې شو ، کوترې د چوغکې پر بچې نارې وکړې: ملګريه ! وه ملګريه چېرته يې ؟ چا ځواب ورنکړ.

کوترې شاوخوا ته وکتل. چارچاپېره ونې وې. هغه چې هر څه وکتل د خپلو پښو نښې يې ونه موندلې. پر ځمکې باندې د ونو رژېدلې پاڼې پرتې وې. هغه نه پوهېده چې له کوم لورې راغلی و. په ژړا يې پيل وکړ. وای مورې ، وای مورې چيغې يې وهلې. هم يې ژړل او هم يې هرې خوا ته منډې وهلې خو د وتلو لاره يې ونه مونده. په ژړا يې ځان ستړی کړ.اخر يې ځان سره وويل: اوس خو راپېښه ده بايد يوې خوا ته لاړ شم کېدای شي چې لاره پيدا کړم.

هغه ښه شېبه مزل وکړ. بيا ښې لاس ته وګرځېد او همداسې روان شو.

ځمکې ته يې کتل او همداسې مخکې ته چې يو درون غږ يې واورېد. پورته يې وکتل که ګوري چې دوه پړانګان د ده خوا ته روان دي. يو يې په غرمبهارو وويل: هی هی څه تنکی ښکار مو وموندڅومره خوندوره غوښه به يې وي.

کوچنی کوتری سخت وډار شو ، په خوله کې يې نارې وچې شوې ، په زارۍ يې وويل: کاکا خير دی ما مه خوره ، پرېږده چې خپل کور ته لاړ شم.

پړانګ وويل: ستا قسمت ښه دی چې موږ اوس ماړه يو که نه خو د خبرو وار به مو هم نه درکاوه.

بل پړانګ وويل: راځه چې ځان سره يې بوزو ، سبا به يې وخورو.

بل يې اړرمی وايست او ويې وويل: څه يې کوې دی خو هسې هم لرې نشي تلای سبا به يې ونيسو.



هغوی پخپله مخه لاړل.هوا وار په وار تیاره کېده. د ونو له منځه رنګ رنګ اوازونه راتلل.د کوترې په زړه کې وېره زیاتېدله. ځان سره یې ویل کاشکې مې د مور خبره منلې وای. د هغه نس وږی و. پښو یې سستې کوله خو دی مجبور و چې مزل وکړي. اوس نو هغه نه پوهېده چې کومه خوا روان دی. ټولې لارې یو شان وې.

کوترې تر هغو پورې لاره ووهله چې هره خوا تپه تیاره شوه. هغه نا امېده په یوه ځای کې پرېوت.یو وخت یې دوو سترګو ته پام شو چې په تیاره کې لکه څراغ ځلېدې. اول وډار شو خو څو شیبې وروسته د رڼو سترګو خاوند ورباندې غږ وکړ: راځه مه ډارېږه.کوترې ورو ورو د سترګو خوا ته وخوځېده.

چې ښه ورنږدې شو په وېریدلې غږ یې وپوښتل: اې ته څوک یې ؟ چوغکه خو به نه یې ؟



د رڼو سترګو والا ځواب ورکړ: نه کوترېه ، زه کونګ یم. لکه چې لاره درنه ورکه ده ؟

کوتري وویل : ته ما لیدای شې ؟

کونګ وویل: هو زه په تیاره کې هرڅه وینم.

کوتري وویل: ما خو به نه خورې ؟

کونګ وویل: نه زه تا نه خورم. زما خوراک مږې او موږکان دي.

کوترې خوشاله شو او ویې ویل: چې داسې ده نوته ما ته لاره راوښیه چې له ځنګله ووځم. بیا به زه خپلې  مور ته ووایم چې موږکان درته ونیسي

کونګ وویل: زه به همداسې لاره دروښییم خو اوس لا یو ، نیم داړونکي ځناور په ځنګل کې ګرځي ، ته سیاله وکړه چې شپه له نیمې واوښته بیا به دې بوزم.

کوترې کرار څملاست. نیمه شپه کونګ وربانديې غږ وکړ: جګ شه چې بیا ناوخته کېږي.

دواړه روان شول. کونګ له یوې ونې الوته او پر بلې کېناسته او کوترې د هغه له سترګو پوهېده چې کومه خوا لاړ شي. ټوله شپه یې مزل وکړ. سهار وختي له ځنګله ووتل. کوتري له کونګ څخه مننه وکړه او د خپل کور خوا ته رهي شو.

لمر راختلی و چې کوترې کور ته ورسېد. که ګوري چې د اسویلو او ژړا غږ راځي. مور یې وه چې په سرو سترګو یې ژړل. کوتري په خوشالۍ سره نارې کړې: مورې وه مورې!



مور  يې په منډو ځان ورورساوه. هغه يې په غېږ کې ونيو او ويې ويل:

شکر چې ته ژوندی يې. شکر چې باز ونه خوړې. ته د باز له منګولو څنګه وتښتېدې ؟

کوترې وپوښتل : د باز له منګولو ؟

مور يې وويل: هو ، پرون چې زه ويښه شوم ته نه وې ، له هرچا مې پوښتنه وکړه خو ته چا نه وې لېدلی. اخر د چوغکې بچې را ته وويل چې هغه خو مې د باز په منګولو کې وليد چې پورته يې ووړ.

کوچنۍ کوترې خپلې مور ته ټوله کيسه وکړه او ژمنه يې وکړه چې نور به د مور خبرې مني.اوس چې هرچېرته کوترې ولاړ وي او چوغکه ورنژدې شي نو کوترې وربانديې ځغلي او ورته وايي چې: ځه دروغجنه ،چې بيا مې غلط نه کړې.

